د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپيڅلي نامه

Logar

# لوګر

میاشتنۍ خپرونه

Ministry of Information and Culture

د تا سیس کال: ۱۳۸۳ هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو اوفرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

یکشنبه د۱۳۹۷ کال د چنګاښ د میاشتې یودیرشمه، د ۲۰۱۸ عیسوي کال دجولای ۲۲مه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۹۴) لومړی کال، دریمه ګڼه


**الهي ارشادات**

ای مؤمنانو کله چې د الله(ج) په لارکې دجهاد لپاره ووځئ، نو ښه پلټنه وکړئ ( د دوست او دښمن په منځ کې توپیر وکړئ) او څوک چې تاسې ته سلام واچوي، هغه ته سمدلاسه مه وایاست چې ته مؤمن نه یي، که تاسې د دنیا مال او ګټه غواړئ، نو الله (ج) سره ستاسې لپاره د ولجې (غنیمتونو ) ډیرې زیاتې شتمنۍ شته. په همدې تاسو هم واست. بیا الله پر تاسې مهربانه شو ، له همدې امله له غور څخه کار واخلئ تاسې چې څه کوئ الله پرې خبر دی.

**دالنساء سوره ۹۴ آیت**

## سرلیکنه ...

### سولې ته تږي ولسونه؛ په هیواد کې د تلپاتې سولې غوښتنه کوي

سوله الهي ستر نعمت دی، چې الله تعالی دخپلو بندګانو لپاره پیرزو کړېده، نو ځکه هر وګړی په دې باور لري، چې د ژوند ټولې چارې د سولې په آرامه فضاء کې ترسره کیدای شي او انسان هم په خپل منځو کې د وحدت ځلوۍ غوړوي.

په هیواد کې دیوې نیمې لسیزې په لړ کې افغان ولس د جګړو له امله ډیر سخت وردریدل اولا دردیږي، چې نه یواځې دغه جګړه دیوې لوري په ګټه ده؛ بلکې درې لوري ولس، دولت اود دولت وسلوال جنګیالیو په تاوان لا هم دوام لري.

افغان حکومت لا پخوا وسلوالو جنګیالیو باندې غږ کړی ؤ، چې دجنګ او جګړو څخه لاس واخلي او دیو سوله ئیز ژوند په لوري له خپلو خپلوانو سره وخت تیر کړي.

نه یواځې دغه د دولت غوښتنه؛ بلکې ولسونه هم وسلوالو جنګیالیو ته ځلۍ غوړولې او ویلي، چې نور جنګ بس کړئ، څو دهیوادوالو وینې نورې تویې نشي.

دغه اقدام لا نورهم پیاوړتیا یې وموند او عام ولسونو خپل مدني حرکتونو په لاره واچول، چې ستره بیلګه یې دهلمندي ځوانانو پلي یون یادولی شو، چې دوی په پلي مزلونو له هلمنده تر کابله خپل غږونه اوچت او دجنګ او وژلو لړۍ د پای ته رسیدو غوښتنه د دولت او د دولت له وسلوالو مخالفینو څخه کړېده.

نو دسولې په راوستو کې زموږ دمشرانو هلو ځلو په پایله اود تاوده خبرو له لړیو څخه جوته شوه، چې د ولسمشر لخوا او ورسته بیا د طالبانو دمشرانو لخوا هم درې ورځنی اوربند په خلکو کې ډیرې نادرې هیلې پیدا کړې، چې د اختر په دریو ورځو کې امنیتي ځواکونو او وسلوالو طالبانو په ګډه توګه یو بل سره روغبړونه یویل ته غاړې آن تردې د دواړو لوري لخوا په یو غږ نور دجنګ دبندیدو او د تل لپاره داوربند غوښتنه وشوه او عام وګړو هم له ډیرو خوشحالیو له خپلو سترګو اوښکې تویې کړې، خو له بده مرغه چې دغه هیلې یوڅه په خلکو کې ناهیلي رامنځته کړې، ځکه دپخوا په څیر طالبانو خپلو بریدونو ته زور ورکړل او دافغان وګړو هغه خوښیو ته یې هم ونه کتل، چې دوی یې له دولتي امنیتي ځواکونو سره بدرګه کول.

نو اوس جوته شوه، چې کوم لوري دجنګ د غځولو لړۍ او په هیواد کې بدبختیو ته لمن وهي، خو بیا هم د ولسمشر غوښتنه دوسلوالو مخالفینو څخه داده، چې دوی حاضر دي داوربند موده په میاشتو او کلونو وغځوي، خو وسلوالو طالبانو د ولسمشر خبرو ته تراوسه لبیک نه دې ویلي، ولې بیا هم دولت هیله مندي ثرګندوي، څو دهرې لوري لخوا باید وسلوال طالبان د سولې په خوا رامات کړي.

خو بیا هم ولس دومره ناهیلي نه څرګندویي دوی وایي، چې اوس هم زیاته تمه لیدل کیږي، چې نور دهیواد څخه د جنګ تغر ټول شي.

ګرانو هیواد والو ! راځئ دغه ملي خوځښت چې دسولې راوستو لپاره اړین بلل کیږي، ټول ولسونه یو بل ته دقناعت ورکولو او دخبرو او اترو له لارې ادامه ورکړو او د زوریدلي او کړیدلي افغانانو اوښکي نورې پاکې کړو.

**تربیا دخدای پامان**

**مدیر**

## د مور نړیواله ورځ په لوګر ولایت کې ولمانځل شوه






دچنګاښ ۲ مه: هغه غونډه چې د شهید عبدالله وردګ په تالار کې د مورد نړیوالې ورځې په ویاړ جوړه شوې وه، پکې د ولایت والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي، د ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي، د ښځو چارو رییسې شیما زرګر، د لوګر د سیندزې حوزې رییسې انجینر زهرا احمدزۍ، ګڼ شمېر مېندو او د رسنیو استازو ګډون کړی ؤ.

غونډه لومړی د سپېڅلي کلام په څو مبارکو آیتونو پیل شوه. ورپسې د لوګر د ښځو چارو رییسې شیمازرګر ګډون والو ته د ښه راغلاست تر څنګ د ښځو چارو وزارت د مور د نړیوالې ورځې په مناسبت رالېږل شوی پیغام ولوست.

وراندې د لوګر والي غونډې ته وویل: مور د بشري ټولنې هغه مهربانه او زړه سوانده موجود او ستره هستي ده، چې په نه ستړې کېدونکو هلو ځلو او زیار یې په ټولنه کې سالمه کورنۍ او داسې اولادونه تربیه کړي، چې په نړۍ کې د بشر د ښه او سوکاله ژوند لپاره ستر خدمتونه تر سره کوي. اسحاقزي زیاته کړه مور ته د اسلام مبارک دین لوړ مقام ورکړی دی، جنت یې د هغوی د پښو لاندې بللی او تل یې په خپلې سپڅلې غېږ کې خپلو ماشومانو ته دغیرت، مېړانې او دهېواد ساتنې درسونه ورکړي دي د مورسپېڅلی نوم ټولو ته آشنا ، له خاطرو ډک او د درناوي وړ دی او همدا مینديدي، چې د ځمکې پرمخ د بشر د نسل په دوام سربېره، د هېوادونو او دبشري ټولنو د ټولنیز، سیاسي، فرهنګي او اقتصادي ژوندانه په تقویه کولو او پرمختګونو کې ارزښتناک رول لري. په تیره بیا زموږ په هېواد کې ... **پاتې په دویم مخ کې**

## دومین مشاعره تحت نام آواز صلح در لوگر راه اندازی شد




مشاعره یی زیر نام(آواز صلح) در ولایت لوگر راه اندازی شد. به گزارش آژانس باختر، در محفلی که به همین مناسبت از سوی جوانان قریه التمور مرکز لوگربا حضور الحاج محمدانور خان اسحاق زی والی لوگر، سمونوال محمد ابدالی قومندان امنیه، حسیب الله ستانکزی رییس شورای ولایتی، محمد شفیق پوپل رییس اطلاعات و فرهنگ، روسای برخی ادارات دولتی، بزرگان قومی، کاروان صلح جوانان خیبر پشتونخوا و شاعران راه اندازی گردیده بود ، یک تن به نمایندگی از جوانان قریه التمور صحبت کرد و گفت که هدف از برگزاری این مشاعره حمایت از برنامه های اخیر درخصوص صلح می باشد و از طرفین درگیر جنگ خواست تا به برادر کشی میان شان پایان دهند.

جرنیل پشتون مسوول کاروان جوانان صلح خواه خیبرپشتونخوا گفت که ما مدت ها میشود که در کشور پاکستان به سر میبریم، وضعیت کنونی وطن مان افغانستان، ما را وادار به این نمود که بدون کدام وسیله ترانسپورتی جهت بلند کردن آواز صلح از خیبرپشتونخوا پیاده به سوی افغانستان حرکت کنیم، به لوگر رسیدیم و این کار جوانان لوگر ما را امید وار به تامین صلح و تقویت در راه مبارزه به رسیدن به صلح نموده است. محمدانورخان اسحاق زی والی لوگر با اظهار خرسندی از این کار نیک جوانان قریه التمور افزود که تمام مردم مان تشنه صلح هستند و این جنگ فعلی در کشور کار بیگانه گان است، ما باید به جای سیاست تقابل، سیاست همکاری را اختیار نماییم تا باشد به صلح پایدار دست یابیم. ...

**بقیه درصفحه دوهم**

## محصلین لوگر فراغت شانرا از دانشگاه ننگرهار جشن گرفتند

دوصدوبیست تن دانش آموزان ولایت لوگر به تاریخ 14 سرطان طی محفل با شکوهی درتالارشاروالی این ولایت در حالی فراغت شانرا جشن گرفتند که برخی آنها از نبودکار، به‌آینده شان نگران اند.

برنامه که بدین مناسبت دایرگردیده بود درآن محمدانورخان اسحاق زی والی لوگر،حسیب الله ستانکزی رئیس شورای ولایتی،رئیس پوهنتون لوگر،جوانان ، محصلین وبزرگان قومی اشتراک ورزیده بودند.

محمدانورخان اسحاق زی والی لوگر درجریان صحبت هایش ضمن تبریکی به محصلین از همه فارغین خواست که درادامه تحصیلات شان تا سطوح ماستری ودوکتورا تلاش نمایند ، آقای اسحاق زی به جوانان وعده داد که جهت کاریابی آنها تلاش خواهدنمود.

این دانش آموزان درسیزده رشته های مختلف آموزشی برای مدت چهار سال آموزش دیده اند ،یکتن ازفارغین پوهنځی اقتصاد پوهنتون ننگرهاربه آژانس باختر گفت: بسیارزیاد خرسند هستم که شاهد جشنواره فراغت خود هستم، من با وجود آنکه مشکلات زیاد اقتصادی داشتم باز هم برای آینده درخشان خود وکشورم درس خواندم، حال از دولت میخواهم که زمینه کار را برای ما مساعدنمایند.





قابل یاد آوری است که سال گذشته نیزدهاتن محصلین لوگر فراغت شانرا از پوهنتون ننگرهار جشن گرفتند اما تا هنوز برخی آنها با مشکلات جدی بیکاری دست وپنجه نرم میکنند . **محمد زاهد (سلسلطانی)**

فرهنګ دیوې ټولنې دبنسټیزو ارزښتونو څخه ګڼل کیږي، نو د خپل فرهنګ په ساتلو اول پېرنیو فرهنګ څخه ژغورل دهرافغان دنده ده!